جیو افغانیکا
تیوری تحقیق تحلیل

لومړۍ مقاله- نومبر ۲۰۲۵

د نوشاخ څېړنپاڼې

مشتاق رحیم



## پر دولتي ادارو د خلکو د باور اهمیت

# د افغانستان قضیه

# تر جګړې وروسته په بیارغونه، ثبات او له بغاوتونو سره په مبارزه کې پر دولتي ادارو د خلکو د باور اهمیت - د افغانستان قضیه

**یادونه؛** دا څېړنپاڼه په ۲۰۲۰ کال کې په انګریزي ژبه د کونراد اډیناور بنسټ لپاره لیکل شوې وه. دغه اداره د جرمني او نړۍ یو له مشهورو ادارو ده چې په جرمني او نړیواله کچه فعالیت لري او د ډیموکراسۍ، سولې، ازادۍ او اقتصادي ودې لپاره کار کوي.


لیکوال:

**مشتاق رحیم**

ژباړه او متني سمون:

**د جیوافغانیکا د ژباړې ډله**

خپروونکی:

**د جیوافغانیکا د نړیوالو اړیکو مرکز**

خپرېدو کال:

**د ۲۰۱۵ کال د نومبر میاشت**

ډیزاین:

**د جیو افغانیکا د ډیزاین ډله**

ایمیل:

geoafghanica@gmail.com ; abilalnajeeb@gmail.com

# د جیوافغانیکا په اړه

جیوافغانیکا د پښتو ژبې انلاین پلېټفارم دی، چې موخه یې په علمي او عملي برخه کې د نړیوالو اړیکو وده ده. مورږ غواړو په پښتو کې د نړیوالو اړیکو په برخه کې د پوهې تشه ډکه، د آی آر او افغانستان‌محوره سیمې په اړه تیورۍ، تحلیلونه او تحقیقونه وړاندې کړو. تاسو جیوافغانیکا په دې آدرس ځارلی شئ ([https://geoafghanica.com/](https://geoafghanica.com/))

**زمونږ موخې**

- په پښتو ژبه کې د نړیوالو اړیکو د مهمو علمي متنونو ژباړه، چې د آی آر اساسات، تیوری، مېتودونه او مفاهیم بیانوي.
- د آی آر پښتو کولو ترڅنګ، د سیمې او نړیوالو قضایاوو په تړاو، د نړۍ د یو شمېر مفکرینو لیکنې او تحلیلونه ژباړل.
- د راتلونکو ځوانانو یو داسې ټولی روزل، چې نه یوازې دا چې په نړیوالو ژبو د افغانانو لیدلوری نړیوالو ته وړاندې کړي، بلکې له دولتي نړېټیف (بیانیې) هم کلک ملاتړ وکړي. دغه راز، د اوسنیو ځوانانو ترمنځ پر یو داسې پلېټفارم بدلېدل چې په سیمه کې د افغانستان ستونزې او ګټه بایلات بحث کړي. د سیمې د روانو لوبو او سیالیو د تحلیلولو ترڅنګ پر افغانستان د دې ټولو اغېزې هم وشنې.

## د لیکوال په اړه



**مشتاق رحیم** د شخړو د مدیریت، سولې، او له جګړې وروسته د بیا رغونې او پراختیا کارپوه او څېړونکی دی. نوموړي په دې برخو کې د ملګرو ملتونو له پراختیايي پروګرام (UNDP) سره په افغانستان او سوریه کې مهمې دندې ترسره کړي دي. هغه له حزب اسلامي سره د سولې د تړون د پلي کېدو کمیسیون د دارالانشاء رئیس، د افغانستان د سولې عالي شورا د دارالانشاء معین، او د یادې شورا د اجرائیوي بورډ غړی پاتې شوی دی.

د عملي کار ترڅنګ ښاغلي رحیم د کاردان پوهنتون د نړیوالو اړیکو د ماسترۍ څانګې د میلمه استاد په توګه د شخړو د مدیریت، له جګړې وروسته بیا رغونې، او نړیوالو اړیکو په برخو کې تدریس کړی دی. همدارنګ نوموړی د کاردان پوهنتون د بشري علومو ژورنال د کتونکي پلاوي غړی هم پاتې شوی دی.

ښاغلي رحیم تر دې مهال درې د کتابونو څپرکي، ګڼشمېرې څېړنپاڼې، او تحلیلي لیکنې خپرې کړي دي، او همدا راز د ملګرو ملتونو او یو شمېر نورو نړیوالو پراختیايي ادارو لپاره یې له ۱۵ ډېرې برنامې او پروژې ارزولې دي.

# لړلیک


د لیکوال په اړه ........................................................ 4
لنډیز ........................................................ 6
له جګړې وروسته د ولس د باور اهمیت........................................ 10
د باور له منځه تلل........................................................ 11
د باور د کمښت اغېزې ................................................ 20
پایله........................................................ 22

## لنډیز

دا څېړنپاڼه په جګړهځپلو هېوادونو کې پر دولتي ادارو او بنسټونو د ولس د باور ارزښت څېړي، او د افغانستان تجربه يې د اصلي بېلګې په توګه وړاندې کړې ده. لیکوال استدلال کوي چې ولسي باور د مشروعیت، ټولنیزې همغږۍ، ښه حکومتولۍ او تلپاتې سولې اساسي کیلي ده. او هر کله چې دا باور کمزوری شي، هېوادونه له ناامنۍ، د دولتي بنسټونو له نړېدو او د وسلوالو ډلو له بیا راټوکېدو سره مخامخ کېږي.

له ۲۰۰۱ کال وروسته، او د طالبانو د نظام له نسکورېدو سره، په افغانستان کې د نوې او هیلهمنې ډیموکراسۍ لپاره یو نادر فرصت برابر شو. میلیونونه کډوال بېرته هېواد ته ستانه شول، مدني ټولنې وده وکړه او له یوې اوږدې مودې وروسته، د خلکو په مستقیم ګډون ملي ټاکنې ترسره شوې. خو د لنډمهالي نظام له پیله ناسمې پرېکړې لکه د جګړهمارانو په واک کې ساتل، د انتقالي عدالت له پامه غورځول او د قومونو پر بنسټ سیاسي معامله، د دولت اعتبار زیانمن کړ. اداري فساد، د قانون کمزوری حاکمیت، د خدماتو نشتوالی او د ټاکنو پر سر جنجالونو په ولس کې هغه شته یو څه باور هم له منځه یووړ.

کله چې حکومتولي ورځ تر بلې کمزورې کېده، د خلکو اعتماد په چټکۍ راښکته شوه او وسلوالو ډلو ته یې د بیا منظمېدو زمینه برابره کړه. هغه ټولنې چې له فساد، ناامنۍ او بېعدالتۍ سره مخ وې، ورو ورو له دولته واوښتې، او په همدې تشه کې طالبانو وکولای شول په دې ټولنو کې ځان پیاوړی کړي، خلګ وګماري او خپل نفوذ پراخ کړي. د نشهيي توکو کرکېله او قاچاق، ناقانونه کانکېندنې او اجباري مالیاتو اقتصاد؛ د دولت بنیادي ځواک نور هم کمزوری کړ.

د دې مقالې نچوړ دا دی چې افغان دولت د ولسي باور په ساتلو کې پاتې راغی، او همدا کمزوری باور د وسلوالو ډلو د بیا پیاوړتیا او د دولت د بېثباتۍ او ړنګېدو تر ټولو مهم لامل و. په دې څېړنپانه کې لیکوال ټینګار کوي چې پایښت لرونکې یا دوامداره سوله هغه مهال رامنځته کېدای شي چې سیاسي ټولګډونوالی، شفافیت، د قانون واکمني، حساب ورکوونکې اداري او ریښتیني اصلاحات عملي شي. دا نو بیا هغه اصول دي چې په افغانستان کې تر ډېره پلي نه شول. په جګړهځپلو ټولنو کې ولسي باور د ثبات او پرمختګ په لاره کې یو اړین شرط دی، نه کوم ضمني محصول.

# تر جګړې وروسته په بیارغونه، ثبات او له بغاوتونو سره په مبارزه کې پر دولتي ادارو د خلکو د باور اهمیت - د افغانستان قضیه


## مشتاق رحیم


افغانانو له ۱۹۷۰ لسیزې راهیسې کودتا، استعمار، بغاوتونه، کورنۍ جګړې او ګڼ شمېر کړاوونه تجربه کړي دي. دغه هېواد چې د بې‌نظمۍ او سیاسي بې‌ثباتۍ تاریخ لري، مخکې له دې چې د بدلونونو او سیاسي پرمختګونو له وجې له بحران سره مخ شي، له ۱۹۲۹ څخه یې تر ۱۹۷۳ پورې لږ تر لږه نیمه سلیزه نسبي سوله تجربه کړه،[1] دغه بحران نه یوازې د دولت تشکیلاتي نظام ویجاړ کړ، بلکې پر سیاستوالو یې د ولس باور ته هم لوی زیان ورساوه.[2]

پر امریکا د سپټمبر یوولسمې برید ـ چې په نړۍ کې یې بې‌نظمي رامنځته کړه ـ د نړۍ فکر افغانستان ته هم واړاوه؛ دا هېواد د سپټمبر یوولسمې د برید اصلي ریښه او د سخت‌دریځۍ ځاله وګڼل شوه. د امریکا په قومانده د طالبانو او القاعدې پر ضد نظامي عملیات د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په اوومه نېټه پیل شول.[3] د امریکا په مشرۍ د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناټو) په افغانستان برید وکړ. د طالبانو رژیم یې ړنګ او د جرمني په بُن ښار کې د بُن په کنفرانس کې یې د یوه لېږدي حکومت بنسټ کېښود.[4] د طالبانو له

---

[1] Rasanayagam, Angelo. 2003. Afghanistan: A Modern History. New York: I. B. Tauris.
[2] Rubin, Barnett R. 2002. The Fragmentation of Afghanistan. USA: Yale University.
[3] Tarzi, Amin. 2009. “The Neo-Taliban.” In The Taliban and the Crisis of Afghanistan, Robert D. Crews and Amin Tarzi (ed.), 274-310. London: Harvard University Press.
[4] Johnson, Chris, and Jolyon Leslie. 2004. Afghanistan: The mirage of peace. New York: Zed Books.

زوال سره سم د افغانستان اوږده کورنۍ جګړه پای ته ورسیده او ورسره سمه د بیارغونې او د افراطیت او نړیوالې انزوا څخه د خلاصون دروازه پرانیستل شوه.[5]

نوي ډیموکراټیک نظام، د حکومتي بنسټونو بېرته رغېدلو او د نړیوالې ټولنې د سخاوتمندانه مالي، تخنیکي او معنوي مرستو په خلکو کې شوق راژوندی کړ؛ خو نوي دولتي سیستم و نه شو کړای چې د خلکو غوښتنې پوره کړي، چې له امله یې په خلکو کې راپیدا شوی شوق بېرته ورژېد. د امریکا له لوري په پخوانیو جنګسالارانو د واک وېش، هغه لومړنی ګام وو چې په خلکو کې یې د رهبرۍ د بدلون فکر رامنځ ته کړ. همدارنګه د قوم او توکم پر اساس د واک وېش د قوم پالنې، خپلسرۍ او د پراخ فساد لپاره لار هواره کړه. د دې ترڅنګ د معافیت کلتور او د حکومت لهخوا د بې کیفیته خدمتونو وړاندې کولو پر حکومت د خلکو باور له منځه یوور. د اوږد سیاسي کشمکش سربېره د ځواک لپاره د ایډیولوژیو څخه تېرېدلو او رقابتي ټاکنو د خلکو باور په دولتي سیستم لا کم کړ. هر ملي حکومت له خپلو خلکو سره د قانون د حاکمیت ژمنه کوي[6]. د قانون په پلي کولو کې د حکومت پاتې راتللو او د امنیتي ځواکونو کم کارۍ په تدریجي توګه ناامنۍ ته لار هواره کړه.

له ۲۰۰۱ کال راهیسې، د لومړیو څو کلونو په استثنا، چې افغانستان پکې نسبي ارامي تجربه کړه، دغه هېواد بېرته د سیاسي، ټولنیز او اقتصادي کشمکشونو سره مخ شو او ورسره وسلوالو جګړو په ټول هېواد کې زور واخیست. د اوسني افغانستان حالاتو ته په کتو دا پوښتنه منځ ته راځي چې ایا د اوسني سیاسي وېش، ټولنیز واټن، اقتصادي بحران او د وسلوالو جګړو ریښه د خلکو په بې باورۍ پورې تړلې ده؟ په دې لیکنه کې همدغه پوښتنه د افغانانو د سترګو لاندې د جګړې نه وروسته او کمزورو حکومتونو لپاره ځوابوو.

---

[5] Jalali, Ali A. 2007. “Legacy of War and Challenge of Peace Building.” In Building a New Afghanistan, Robert I. Rotberg (ed.), 22-55. Washington DC: Brookings Institution Press.
[6] Rotberg, Robert I. 2007. “Renewing the Afghan State.” In Building a New Afghanistan, Robert I. Rotberg (ed.), 1-21. Washington DC: Brooking Institution Press.

## له جګړې وروسته د ولس د باور اهمیت

د سولې په څېړنو کې باور یو اساسي موضوع ده. باور د ټولنیزې همکارۍ او مثبتې سولې بنسټ جوړوي[7]. جګړه‌ځپلي هېوادونه، چې عموماً کمزوري شمېرل کېږي، په جګړه کې د بېرته ښکېلېدو له ګواښ سره مخ وي[8]. دوانګ والټر[9] د امنیتي معضلې موډل پر اساس د دې چانس، چې مقابل لورې به بالاخره د باور فضا له‌منځه وړي، د کورنیو جګړو په پای ته رسولو کې لوی خنډ جوړوي.[10]

له جګړې وروسته حالاتو کې د خلکو بې‌باوري، د رغولو پروسه له خنډ سره مخ کوي او سرکښنو ته زمینه برابروي، چې خپلې شومې برنامې عملي کړي. د ټاکنو په شان سیاسي پروسه کې بې‌باوري درغلۍ ته لار هواره ولې شي، چې دا بیا په خپل وار سره د واک د سوله‌ییز لېږد لپاره یو بالقوه خنډ ګرځي. هر څومره چې ډېر خلک په سیاسي تعاملاتو کې برخه واخلي، په هماغه کچه هغه پروسه مشروعیت ترلاسه کوي. همدا راز، د مخالفتونو په وخت کې د سیاسي او ټولنیزو ډلو یووالی حکومت ته دا وړتیا وربښلای شي ، چې اصلاحي پروګرامونه سم بلې کړي.

له بلې خوا د شخړې پای او د یوې سوله‌ییزې او عادلې ټولنې رامنځته کېدل خلکو ته هیلې وربښي. باور د کتلست رول لوبولو سره هم اقتصادي راکړه ورکړه برابروي او هم سیاسي مشارکت ته لاره هواروي[11]. له جګړې وروسته خلک په دې باوري کېږي چې کولای شي په یوه داسې هېواد کې ژوند وکړي چې دوی ته په سوله‌ییزه فضا کې د ژوند کولو چانس ورکړي، عدالت تأمین وي، ټول مساوي فرصتونه ولري او دوی ته دا ډاډ ورکړي چې کولای شي په انفرادي او یا په ډله‌ییزه توګه پرمختګ وکړي. پیټر بلاو د خپلې تبادلې

---

[7] Wong, Pui-Hang. 2016. “How can political trust be built after civil wars? Evidence from postconfl ict Sierra Leone.” Journal of Peace Research: 772-785.
[8] Galtung, Johan. 1969. “Violence, peace, and peace research.” Journal of Peace Research: 167–191.
[9] Walter, Barbara. 1997. “The Critical Barrier to Civil War Settlement.” International Organisation: 335-364.
[10] Wong, op. cit.
[11] Fukuyama, Francis. 2018. Identity: The Demand for Dignity and the Politics of Resentment. New York: Farrar, Straus and Giroux.

تګلارې په یوه برخه کې واضح کوي، چې د باور رامنځته کول د ټولنیزې راکړې ورکړې یوه پروسه ده، چې د مسئلې یو اړخ پکې بل اړخ ته ګټه رسوي او د جبران تمه ترې کوي[12].

هغه هېواد چې د هیلو او ناهیلۍ تر منځ ورځې او شپې سبا کوي، تل د خلکو د باور محتاج وي. داسې هېوادونه تل مرستې ته اړتیا لري تر څو وکولای شي چې د سولې ترونونه عملي کړي، دولتي ادارې منظمې، سکتورونه اصلاح او د هغو بدنیتو کسانو او ډلو مخه ونیسي، چې د سولې او ثبات د ګډوډلو هڅه کوي. د خلکو باور دولت ته پوره ډاډ ورکولای شي تر څو سختې او مهمې پرېکړې وکړي. د اساسي قانون تصویب، د دولتي ادارو لپاره ټاکنې او د امنیتي سکتور سمون، تر څو دولت د زور د کارونې یوازینۍ مرجع وګرځي او په مدني بېروکراسۍ کې پر ځای ګومارنې هغه پروسې دي چې د خلکو فعال ګډون او نظارت ته پکې اړتیا لیدل کېږي.

د حکومت په جوړولو کې د خلکو نظارت ډېر رغنده رول لري. د سیاسي او مدني فعالیت نه شتون، د خلکو عدم حضور او د ټولنیزو تحرکاتو نشتوالی د دې سبب کېږي، چې له جنګ څخه تازه راوتلی هېواد د فرصت طلبو ډلو ټپلو د ځانغوښتنې ښکار شي؛ خو باور هغه وخت زیاتیدی شي چې هڅه وشي تر څو د خلکو ګډون، وحدت، شفافیت او د چارو په سم ډول ترسره کولو کې رغنده فعالیتونه ترسره شي. د دغو موخو لاسته راوړل کولای شي پر حکومت او رهبرۍ د خلکو باور لا ډېر کړي، له دولت نه د خلکو ملاتړ ډېر او د ځواک له انحصار څخه د مضرو ډلو ټپلو لاس لنډ کړي، چې په پایله کې به دولت وکولای شي چې د تلپاتې سولې، ثبات او سوکالۍ په لور ګام واخلي.

## د باور له منځه تلل

له ۱۹۷۸ کال را په دې خوا افغانستان د یو لړ شخړو او بېثباتیو شاهد دی، چېرته چې ځواک په دوامدره ډول د مختلفو لاسونو ترمنځ تغیر او تحول موندلی دی؛ خو د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر یوولسمې پېښې د تحولاتو او د بُن د کنفرانس په پایله کې په افغانستان کې د یوه لنډمهاله حکومت د جوړیدو او د

---

[12] Blau, Peter M. 1964. Exchange and Power in Social Life. New York: Wiley.

افغانستان د ديموکراتيزه کولو لپاره يوه نقشه وړانديې شوه، کومه چې د خلکو د هيله‌مندۍ سبب وګرځېده. د طالبانو د نظام تر نسکورېدو وروسته د هېواد لپاره يو نوی ديد جوړ شو او د افغانانو لپاره د يوه نوي څپرکي پيل وه چېرته چې د شخړو، ستونزو، بې‌ثباتيو، جنګ‌سالارۍ او ظلم څخه د قانون د حاکميت، ثبات، سوکالۍ او ديموکراسۍ په لور ګام واخيستل شو.

د لندمهاله حکومت په نامه د نوي حکومت جوړېدل هېواد ته د درې ميليونه افغان کډوالو په بېرته راستنيدو سره استقبال شول[13] او ټول هغه افغان کادرونه چې په بهرنيو هېوادونو کې يې د کډوالۍ شپې او ورځې تېرولې، بېرته يې له دې هيلې سره خپل هېواد ته مخه کړه چې دوی به د جنګ ځپلي هېواد د بيا ودانولو رهبري په غاړه اخلي، تر څو ورته د داسې ژوند کولو فرصت برابر شي، چې د دوی ټول حقوق خوندي وي. سربېره پر دې، سياسي او مدني فعاليتونه په ټولنه کې ښکاره شول.

ځرنګه چې د دې پيلامې لپاره د خلکو ليوالتيا اوج ته رسيدلې وه؛ خو د دولت رهبرۍ هغه څه ونه کړل، چې تمه تري کېده. پخواني جنګ‌سالاران که څه هم تر يوې اندازې بې‌وسلې شول، خو صرف نظر له دې چې دوی بې‌وسلې شوي وو يا نه، ډېرو يې بيا هم خپل سياسي او اقتصادي ځواک او کتله خوندي وساتله.[14] د بُن د کنفرانس په پايله کې ځواک د هغو مختلفو احزابو او جنګ سالارانو تر منځ ووېشل شو، چې د افغانستان په کورنيو جګړو کې يې ګډون درلود. انتقالي عدالت د سياسي توافق تسهيل کوونکو له‌خوا ـ چې د امريکا متحده ايالاتو يې رهبري په غاړه درلوده ـ ناديده ونيول شو، پر دې سربېره ځينې ګروپونه لکه طالبان او حزب اسلامي هم دغه کنفرانس ته نه وو غوښتل شوي او يوازې پکې د شمالي اتحاد غړي وو چې اکثريت يې د تاجکو له قوم څخه وو او پر دې اساس پښتانه چې د افغانستان غوڅ اکثريت دی، پکې شامل نه وو او خپل ځانونه يې محروم ګڼل[15]. ډېری پښتنو دا پتېيله چې دوی په مرکزي

---

[13] UNHCR. 2004. Afghanistan: Challenges to Return. Situation Update, Geneva: UNHCR.

[14] Newberg, Paula R. 2007. “Neither Stable nor Stationary: Politics of Transition and Recovery.” In Building a New Afghanistan, Robert I. Rotberg, (ed.) 82-97. Washington, D.C.: Brookings Institution Press.

[15] International Crisis Group. 2011. Afghanistan’s Elections Stalemate. Update Briefi ng, Kabul/ Brussels: International Crisis Group.

حکومت کې، په خاص ډول په امنيتي ارګانونو کې په پراخه کچه نشته او دا د ټولنې د دغې عمده برخې (پښتنو) د شکايت سبب شوه[16].

که څه هم د بُن کنفرانس له هغو ايډيل پرېکړو څخه کوم چې په نظر کې وې، ډېر لرې و؛ خو بيا هم افغانانو خپل مثبت حالت وساته. د ټولنې د پرمختګ او پراختيا لپاره هڅو ـ چېرته چې قانون او ديموکراتيک اصول عملي کېدل ـ ادامه پيدا کړه. مدني ټولنې د هېواد په کچه زياتې شوې، سياسي ګوندونو او ګروپونو هم د ټولنو د سياسي او ټولنيز انسجام لپاره فعاليت پيل کړ. هيله وه چې اضطراري لويه جرګه[17] به د دولت بنسټ پراخ کړي. له ملکي رهبرۍ څخه به دفاع او ملاتړ وکړي، ديموکراتيکې پروسې ته به وده ورکړي او واک به له سيمه‌ييزو مشرانو څخه بېرته واخلي؛ خو پايله يې د خلکو د توقع او هيلو خلاف وه[18]. څرنګه چې دغه کنفرانس په زياته کچه د جنګسالارانو له لوري اغېزمن و او لاس‌وهنه پکې شوې وه، ځکه پکې اصلي موضوعات په ښه ډول مطرح نه شول او دوی ونه توانيدل چې يوه متوازنه انتقالي اداره جوړه کړي[19].

په ۲۰۰۴ کال کې د ولسمشرۍ ټاکنې يوه تاريخی پيښه وه، چېرته چې خلکو د لومړي ځل لپاره د هېواد په تاريخ کې په مستقيم ډول خپلې رايې وکارولې او د نوماندانو په واسطه د هېواد په سطحه سالم ټاکنيز کمپاينونه د دې لامل شول، چې په لويه پيمانه خلک په ټاکنو کې ګډون وکړي. په همدې بڼه د ولسې جرګې ټاکنې چې په ۲۰۰۵ کال کې تر سره شوې، زيات شمېر خلکو پکې ګډون وکړ او خپلې رايې يې وکارولې.


خو بيا هم منتخب دولت له ټاکنو څخه مخکې موجوده حالت وساته او زيات شمېر جنګسالاران او د هغوی د ګټو ساتونکو ته يې په ملي کابينه او نورو ولايتي دولتي ادارو کې ځای ورکړ. په افغانستان کې د

---

[16] International Crisis Group. 2003. Afghanistan: The Problem of Pashtoon Alienation. Asia Situation Report Series, Kabul/Brussels: International Crisis Group.
[17] Traditional grand assembly of elders with an authority to decide upon issues of higher national value.
[18] Jalali, Ali A. 2007. "Legacy of War and Challenge of Peace Building." In Building a New Afghanistan, Robert I. Rotberg, 22-55. Washington DC: Brookings Institution Press
[19] Jalali, op. cit.

نړیوال مشارکت په اوږدو کې، د امریکا متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې د پاتې طالبانو د ځپلو لپاره له هغو جنګسالارانو څخه کار واخیست، چې اوږدې جرمي سابقې یې درلودې او د بشري حقوقو تر پښو لاندې کولو کې یې فعاله ونډه لرله،[20] دغه کړنې د ملکي خلکو د ناهیلۍ او پر نوي ډیموکراټیک دولت باندې د باور نه کولو لومړۍ پیلامه وه.

شکل ۱: د دولت له کړنو څخه رضایت[21]




دا چې دولت خپلې چارې د وړ کسانو پر ځای جنګسالارانو ته سپارلې وې، له امله یې د ښې حکومتولۍ د اساسي اصولو مطابق اجراآت ترسره نه شوای کړای. په ټولو ټولنو کې، مخصوصاً هغه ټولنې چې له تاوتریخوالي څخه نوې راپورته شوې وې، اداري او ټولنیز خدمات هیڅ موجود نه وو او یا هم په غیر عادلانه شکل وړاندې کېدل، چې دغه نا برابري د شخړو او ستونزو له عمده عواملو څخه وو[22]. له جګړې

[20] Felbab-Brown, Vanda. 2017. Afghanistan Aff ectations: How to Break Political-Criminal Alliances in Contexts of Transition. Crime-Confl ict Nexus Series, Tokyo: United Nations University.
[21] Asia Foundation (https://asiafoundation.org/publication/afghanistan-in-2019-a-survey-ofthe-afghan-people/), accessed on 2 November 2020.
[22] McCandless, Erin. 2012. Peace Dividends and Beyond: Contributions of Administrative and Social Services to Peacebuilding. New York: United Nations Peacebuilding Support Office.

وروسته د خدماتو وړاندې کول کنټرول او اداره کېدای شي او دغه ډول کنټرول د دې پر ځای چې د ټولنې او دولت تر منځ باور او اړیکې پیاوړې کړي، کولای شي چې د نابرابریو د پیدا کېدو او یا هم شدیدو سبب شي[23]. فلباب براون مشاهده کوي چې د فساد او جرایمو ضد کوښښونو ملاتړ له سیاسي اړخه نه و شوی. د بېلګې په ډول، په مشخصو سیاستوالو باندې د مرستو قطع کول او یا هم د تحریمونو وضع کول. ځکه نو دا وايي چې تخریب کوونکو سیاسي افرادو او دغه سیاسي سیستم په تیزۍ سره زده کړل چې څرنګه د فساد او جرم ضد کوښښونو سره مبارزه وکړي، کوم چې د دغه سیستم مشروعیت نور هم کم کړ او په افغانستان کې د طالبانو د فعالیت او راپورته کېدو د لا زیاتوالي سبب شو[24].

د خلکو د توقعاتو او هیلو د پوره کولو اړوند د دولت پاتې راتلل، د بدې حکومتولۍ ادامه او د فساد زیاتوالي په حکومت باندې د خلکو باور ته زیان ورساوه او کمرنګه یې کړ. همدا ډول د قانون په عملي کېدو او حاکمیت کې پاتې راتلل، په مشخص ډول د پولیسو او قضا په برخو کې، پر دولت باندې د خلکو باور ته د توجه وړ صدمه او ضرر ورساوه. لکه څرنګه چې د نړیوال بحران ګروپ (ICG) راپور ورکوي چې خلکو خپل اعتماد په رسمي قضايي سکتور له لاسه ورکړ. دغه راپور همدارنګه زیاتوي چې اکثریت افغانان دې ته اړ شول چې د طالبانو او نورو مجرمو زورواکو سخت قضايي سیستم ومني. البته په هغو ساحو کې چې د دولت له کنټرول څخه وتلې دي[25].


د ناوړه حکومتولۍ او د روان حالت د پایښت په پایله کې پر دولتي ادارو باندې د خلکو باور او ملاتړ له منځه لاړ او د خلکو د دغه باور له منځه تلل په دیموکراتیکو پروسو کې د خلکو د کمرنګه ګډون څخه په واضح ډول څرګندیږي. د جمهوري ریاست په دویم ځل ټولټاکنو (۲۰۰۹) کې د خلکو د ګډون سلنه کمه شوه او د دغه ټاکنو پایلې له سیاسي شخړو سره مخ او د نابریالیو نوماندانو له خوا ونه منل شوې[26]. سربېره پر دې، کوم دولت چې له ټاکنو وروسته رامنځته شو، ویې نه شو کولای چې د ټاکنو د سیستم د

---

[23] McCandless, op. cit.
[24] Felbab-Brown, op. cit.
[25] International Crisis Group. 2010. Reforming Afghanistan's Broken Judiciary. Analytical ReportAsia Report Series, Brussels: International Crisis Group.
[26] Eide, Kai. 2012. Power Struggle over Afghanistan. New York: Skyhorse

اصلاح لپاره کار وکړي او بیا یې هم هغه خلکو ته په حکومت کې ځای ورکړ، چې افغانستان یې د پرمختیا او پرمختګ له مسیر څخه منحرف کړی و. په پایله کې د خلکو باور په دولت نور هم کمزوری شو او د خلکو هغه هیلې له منځه لاړې چې له دولت څخه یې درلودې.

شکل ۲؛ د ټاکنو د ډولونو پر اساس د ګډونوالو پرتله - افغانستان




*سرچینه: د ډیموکراسۍ او انتخاباتي ملاتړ نړیوال انستیټیوت (IDEA)*[27]

د تېرو حکومتونو ناکامۍ د دې سبب شوې چې خلک پر سیاست او سیاسي جریانونو په لویه کچه بې‌باوره شي. فساد او تېرو ناکامو انتخاباتو د راتلونکو انتخاباتو په مپیلیت جدي شکونه پرېښودل[28] . په ۲۰۱۴ کال کې ولیدل شول چې په انتخاباتو کې د خلکو ګډون کمزوری شو، د انتخاباتو په پایله باندې اعتراضونه وشول او بلاخره له سیاسي کشالې وروسته د ملي یووالي یو غیرقانوني حکومت[29] جوړ شو،

[27] https://www.idea.int/data-tools/country-view/44/40. Accessed on 2 November 2020.
[28] Cordesman, Anthony H. 2019. Afghanistan:A War in Crisis! Research Report, Center for Strategic and International Studies.
[29] https://www.afghanistan-analysts.org/en/resources/afghan-government-documents/thegovernment-of-national-unity-deal-full-text/. Full text of the NUG agreement, accessed on 2

په کوم کې چې د بریالي اشرف غني او د هغه سیال عبدالله عبدالله[30] ځواک شریک کړ. دا د یوه بل سیاسي جنجال پیل و. دواړو رهبرانو د کابینې د وزیرانو په ګمارولو پراخ جنجالونه وکړل[31]. دغه جنجالونه په حقیقت کې هغه سخته ضربه وه، چې پر افغان دولت یې د خلکو باور کلک وځاپه او اغېزې یې بیا د ۲۰۱۹ کال د ولسمشرۍ په ټاکنو کې څرګندې شوې، ځکه په دغه کال په پراخه پیمانه خلکو په ټاکنو کې ګډون ونه‌کړ.

د نورو کورنیو جګړو په شان افغان شخړې هم د افغانستان ټولنیز جوړښت د قومونو په کچه زیانمن کړ. د بُن له کنفرانس وروسته داسې انګېرل کېدل چې په هېواد کې به ملي پیوستون جوړ، ټولنیز ګډون به پیاوړی او افغانان به یو ملي لید لوری ولري، مګر حکومت په دې ونه توانېد چې یوه ملي اجنډا جوړه کړي، اوسنی قومي وېش، کوم چې د بُن د کنفراس له امله پراخ شو او له سیاسي ناندریو وروسته ځواک د قومونو په اساس وویشل شو.

سیاستوالو د قومي سیاست کارت په کارولو او د قوم په نامه د خلکو د احساساتو د راپارولو له لارې د ځواک د ترلاسه کولو دعوې پیل کړې. دا د دې لامل شو چې افغانان د یوې ملي سیاسي اجنډا لرلو چانس له لاسه ورکړ. د دې پرځای چې په ملي ستونزو تمرکز وشي، سیاستوالو ځانونه په قومي شعارونو مصروف کړل، چې بالاخره د ملت جوړولو موقع له لاسه ووتله او ټولنه لا نوره زیانمنه شوه. د توکم پالنې سیاست د هر ډول ریفورم مخه ونیوله، ځکه د اشخاصو محاکمه کول د توکم محاکمه بلل کیده. دا کار د معافیت په کلچر بدل شو او اشخاصو د خلکو له احساساتو شخصي ګټه پورته کړه.

د معافیت دغه ډول او پېر اشخاصو او ګروپونو پورې ځان تړل په ملي ادارو کې فساد، اختلاس او رشوت ته زمینه برابره کړه. فساد او کمزوري اداري ظرفیتونه د افغان شخړې دوه عمده لاملونه دي،[32] د

---

November 2020.


[30] Kerry, John. 2018. Every Day is Extra. New York: Simon & Schuster.

[31] van Bijlert, Martine. 2016. Afghanistan's National Unity Government Rift (2): The problems that will not go away. Political Landscape, Kabul: Afghan Analysts Network.

[32] Wheatland, Ben. 2015. Afghanistan: Corruption as a driver of confl ict. Expert Answer Report, Anti-Corruption Resource Center.

فیلاب برون په باور طالبان هم په غیر قانوني اقتصادي کړنو کې دخیل دي. مثلاً، د مخدره موادو قاچاق، په غیر قانوني توګه د معدنونو استخراج، دځنګلونو وهل او همدارنګه باج اخیستل، مګر د طالبانو لهخوا له ځواک څخه ناوړه ګټه اخیستنه د دولت په داخل کې زورواکو په نسبت کمه ده. د لیکوالې په باور، که څه هم طالبان د افغان شخړې د ډیرو خونړیز تلفاتو مسؤول دي، مګر طالبان کولای شي چې ځانونه له فساده لرې وښیي او همدارنګه په جدي توګه د لانجو حل، د جرمونو په مقابل کې عکس العمل او د عدالت په راوړلو کې برلاسي دي[33]. فساد په افغانستان کې ملکي خدمتونه کمزوري کوي. همدارنګه فساد د مخدره موادو تولید او قاچاق ته زمینه برابروي کوم چې بې‌ثباتۍ ته لمن وهي[34]. د عامه خدمتونو نشتون او ناوړه حکومتولي په مرکز او خاصتاً په محلي سطحه د دې سبب شوې چې حکومت عامه ملاتړ له لاسه ورکړي او اورپکو ته د فعالیت زمنیه برابره کړي.

**شکل ۳؛ فساد په افغانستان کې د یوې ستونزې په حیث**




*د معلوماتو او چارټ سرچینه: د آسیا بنسټ، د افغانستان د خلکو یوه سروې*[35]

[33] Felbab-Brown, op. cit.
[34] Bak, Mathias. 2019. Corruption in Afghanistan and the role of development assistance. Analytical, Transparency International.
[35] Asia Foundation (https://asiafoundation.org/publication/afghanistan-in-2019-a-survey-ofthe-afghan-people/), accessed on 2 November 2020.

د نامتوازنو جګړه‌ییزو فعالیتونو د بریا لپاره د نورو فکټورونو ترڅنګ یو فکټور دا هم دی چې خلک په خپل ګاونډ کې د وسله والو مخالفینو د فعالیتونو په اړه بې‌تفاوته دي. دغه راز د افغانستان په قضیه کې هم خلک د ناوړه حکومتونو او د عامه خدمتونو د نشتون سره مخامخ وو. خلکو د حکومت له ملاتړه لاس واخیست. دا کار د دې سبب شو چې اورپکو د خلکو له منځه فعالیت پیل کړ. ورته عمل په نورو مواردو کې هم پېښ شوی. مثلاً، په نایجیریا کې له حکومت سره د خلکو د ملاتړ نشتوالي له امله ځایي ټولنې د وسله والو ډلو لپاره د امن په ځالو بدلې شوې. مارشال د نایجیریا د تجربو په اړه، چې د افغانستان سره مشابه دي، لیکي: اکثریت خلکو د بوکو حرام تر کنټرول لاندې سیمو کې د ملي ځواک سره د اورپکو له ویرې یا له حکومته د ناراضۍ له امله همکاري ونه کړه.[36]

د ملي ځواکونو او جنګیالیو ډلو ترمنځ جګړې د خلکو په منځ کې تر سره شوې. په پایله کې ملکي تلفات زیات شول. همدارنګه ملکي خلک د ترویستانو د ملاتړ په شک ونیول شول او کلونه بندیان شول. په دې سره د دولت وسله والو مخالفینو فرصت وموند چې د حکومت پر وړاندې تبلیغاتي کمپاینونه وکړي، چې له امله یې نه یوازې د خلکو خواخوږي ترلاسه کړه، بلکې د نویو جنګیالیو راجلبولو ته یې هم لار هواره کړه. د غیر متضاد جنګ د برخې په توګه د تاوتریخوالي دایرې دوام وکړ، د خلکو د ملاتړ نشتون،کمزورې حکومتولۍ او له ولس سره د اړیکو په ترمیم کې د دولت ناتواني د خلکو او دولت تر منځ واټن ډېر کړ. دغه کار وسله والو ډلو ته اجازه ورکړه چې په ټول هېواد کې خپل نفوذ پراخ کړي.

په تېرو څو کلونو کې په هېواد کې د تاوتریخوالي په کچه کې د پام وړ زیاتوالي د سوداګرو ټولنې باور هم زیانمن کړی. د سوداګرۍ جریان او اقتصادي پراختیا فعالیتونه د ډېریدونکي تاوتریخوالي له امله ودرېدل او بالاخره دغه کار بېوزله خلک ډېر وځپل. دې کار خلک ناهیلي کړل او د دولت او خلکو ترمنځ یې د بې‌باورۍ فضا رامنځته کړه.

[36] Marshall, Tim. 2015. Prisoners of Geography. New York: Scribner.

## د باور د کمښت اغېزې

د چریکي بریدونو په دوام د افغانستان دولت و نه توانید چې د خلکو ملاتړ ترلاسه کړي. په ۲۰۱۸ کال کې د روڼتیا د څار اداري د سروې له مخې، له دې خبرې سره چې (په دولت کې د شته فساد له امله خلک طالبانو ته مراجعه کوي) نږدې ۴۳٪ خلکو موافقه یا قوي موافقه ښودلې وه، چې دا شمېره د ۲۰۱۶ کال د ۳۹٪ په نسبت زیاته ده[37]. د دې پایله دا شوه چې وسلوال مخالفین د خلکو ترمنځ ځای ومومي او د دوی خواخوږي ترلاسه کړي. د دوی دې هڅو ورته د حکومتولۍ فعالیتونو د ترسره کولو زمینه مساعده کړې، څومره چې خلک له خرابې حکومتولۍ سره مخ وي، هومره ټولنې د وسله والو مخالفینو خوا ته ور نږدې کېږي.

پر دولت د خلکو کمېدونکې باور د دې سبب شوی چې وسله وال مخالفین بیا راڅرګند شي او د نوي افغان دولت پر وړاندې د یوه لوی خطر په حیث رامخې ته شي او د روڼتیا د څار اداره د یوه تبصره‌کوونکي خبرې داسې نقلوي: ((په پراخه کچه د وحشتناکو جنایتونو، د فساد د شتون او د ځواک غلط استعمال، چې افغان دولت یې پر وړاندې مؤثره مبارزه نه ده کړې، د طالبانو تسلط ته یې لاره پرانستې))[38].

د دې ترڅنګ د وسله والو ډلو راڅرګندېدل او افغاني ټولنې ته لار پیدا کولو یې محلي او سیمه‌ییزو ورانکاریو ته لار پرانسیته، تر څو په هېواد کې لاسوهنې پیل کړي. دغه راز د فساد شتون چې په پایله کې د افغان دولت مشروعیت ته زیان واوښت، د وسله والو مخالفینو شهرت وموند او مخالفینو ته د اړینو توکو لېږد ترسره شو[39]، په افغانستان کې د امریکا هدف هم زیانمن شو[40].

---

[37] Integrity Watch Afghanistan. 2018. National Corruption Survey. Public Perception Survey, Kabul: Integrity Watch Afghanistan.
[38] Integrity Watch Afghanistan, op. cit.
[39] SIGAR. 2016. Corruption in Confl ict: Lessons from the US Experience in Afghanistan. Analytical, Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction (SIGAR).
[40] Counter terrorism mission.

د کوکنارو د کښت په سيمو کې د شته تاوتريخوالي او د دولت  واک د نه شتون له امله د ترياکو کاروبار پراختيا وموندله او افغانستان د نشه يې توکو د قاچاقبرانو لپاره په ګټور مارکېټ بدل شو، د نشه‌يي توکو کاروبار دومره پراخ شو چې ويې کولای شول د وسله والو مخالفينو مالي ملاتړ وکړي او په دې توګه يو ناوړه ځنځير رامنځته شو. د دې ترڅنګ غير قانوني کان کېندنه، شوکې، اختطاف  او د غير دولتي ډلو له لوري غير قانوني ماليه ټولونه په هېواد کې عادي مسئلې وې. څومره چې غير قانوني اقتصادي فعاليتونه پراختيا مومي، هومره د دولت اقتصاد مخ په ټيټه حرکت کوي. همدارنګه د اقتصادي فرصتونو کمښت او د غير قانوني اقتصادي فرصتونو ګټورتوب د ځوانانو او لرو پرتو سيمو د مخورو توجه راجلبوي، کوم چې له دولت څخه په ملاتړ کې کمی راولي او پر دولت د خلکو د باور د له منځه تللو لامل ګرځي.

په ټولنه کې محدود شمېر کسان چې له غير قانوني اقتصادي فعاليتونو او فساد څخه يې مالي ګټې ترلاسه کولې، د خلکو په منځ کې يې لوی موقف وموند او د هېواد په سياسي چارو کې ښکېل شول. په سياست کې د لويو مالي شتمنيو لرونکو کسانو ښکېلېدو د وړ او ريښتينو مشرانو د رامنځته کېدو او مطرح کېدو مخه ډب کړه، چې له امله يې ځوان کادر او مخلصو مشرانو ډاډمنتيا راکمه او پر دولت باندې باور لا کم شو.

په اسلامي نړۍ کې له تاوتريخوالي ډکه سخت دريځي ډېر لاملونه لري، خو دا جوته ده چې د حکومتولۍ د ناکاميو، اقتصاد، زياتيدونکي نفوس او د زياتيدونکي تاوتريخوالي او له تروريزم څخه د بغاوت په لور د تګ ترمنځ ښکاره اړيکه موجوده ده[41]. په افغانستان کې شته بغاوتونو د شته ديموکراتيک حکومتي سيستم دوام ته ستونزې راولاړې کړي. د هېواد د امنيت، اقتصادي پراختيا، ټولنيز پرمختګ او سياسي ثبات په برخه کې شاتګ روان و، په نظامي او سياسي برخو کې د طالبانو بيا راپورته کېدنه د افغان دولت لپاره لويه ضربه وه.

---

[41] Cordesman, op. cit.

سرکښې ډلې په دې وتوانیدلې چې د یوه غالب قوت په حیث راڅرګندې شي او په نظامي او سیاسي چارو کې حاکمیت ترلاسه کړي. دوی له افغان دولت سره د سولې په تړاو د مذاکراتو په حال کې وې، چې له دې وړاندې یې له امریکا څخه ډېر امتیازات ترلاسه کړل[42] او ډېرې غوښتنې یې د امریکا لهخوا ومنل شوې. په عین وخت کې یې په شدیدو جګړهییزو چارو لاس پورې کړ او د دولت ثبات یې له ستونزو سره مخ کړ.[43] د افغانستان راتلونکی اوسمهال مبهم او د سولې د خبرو د ناکامۍ په صورت کې د کورنۍ جګړې او بېثباتۍ له پس منظر سره مخ کېدونکی معلومیږي، که د سولې خبرې بریالۍ هم شي، نو په بدل کې به د خلکو دیموکراتیکه خپلواکي او حقوق قرباني شي، چې هېواد به بیاځلې د سقوط تر څنډو ورسوي.

## پایله

له جګړې وروسته د بدلون د سولهییزې فضا د رامنځته کولو په برخه کې د خلکو باور د ستر اهمیت درلودونکې دی. هغه ټولنې چې د کورنیو جګړو او دوامداره بې ثباتیو له تجربو راوتې وي، د دولت د رامنځته کولو لپاره تل د خلکو ملاتړ ته اړتیا لري. بالخصوص د افغانستان غوندې ټولنه، چې متعددې ډلې یې د هېواد د پراختیا او ثبات د ودې د مخنیوی لپاره فعالیتونونه کوي، د خلکو باور ترلاسه کول پکې تر ټولو زیات ارزښتمن وي.

خلک له مثبت فکر سره له ملي جریانونو سره یو ځای کېږي او هیله لري چې د بدبختۍ ورځې پای ته ورسېدې. په داسې حالاتو کې ټولنه دې ته چمتو وي چې په ملي پراختیایي چارو کې برخه واخلي او د دولت جوړونې او ملت جوړونې په چارو کې خپل کارنده رول لوبوي؛ خو د دې باور د ساتلو لپاره اړینه ده،

---

[42] The Doha Agreement signed between the US and the Taliban (https://www.state.gov/agreement-for-bringing-peace-to-afghanistan/), accessed 2 November 2020.
[43] Quilty, Andrew. 2020. Taleban Opportunism and ANSF Frustration: How the Afghan confl ict has changed since the Doha agreement. Situation Update, Kabul: Afghan Analysts Network.

چې وښودل شي چې هېواد د ودې په حال کې دی او د دې لپاره د پايلو ښودنه اړينه ده. ښه حکومتولي، د قانون حاکميت او اصلاحاتو ته ژمنتيا د خلکو د باور د ساتلو لپاره اړين دي.

خو د افغانستان سياسي رهبري و نه توانېده د خلکو د باور ساتنه وکړي او ملاتړ يې ترلاسه کړي. که څه هم د کارپوهانو لهخوا ورته د خلکو د باور د ساتلو يادونه وشوه، خو ريښتوني ګامونه تر اوسه چا وانهخيستل. د بحران نړيوال ګروپ ليکي چې د ټولو اړوندو ګډونوالو پاينښت د خلکو او دولت ترمنځ د باور د ستونزو په کمولو پورې تړلی و[44]. خو هيڅ عملي ترسره نه شو، چې په پايله کې د خلکو توقعاتو د نه رسېدنې له وجې د خلکو باور په دوامدار ډول کم او له منځه ولاړل. دې کار وسله والو مخالفينو ته موقع په لاس ورکړه تر څو د خلکو او دولت ترمنځ د باور ستونزه لا نوره هم پېچلې او لويه کړي. د ولس د باور کمی او وسله والو مخالفينو د کړنو په وړاندې د بې تفاوته پاتې کېدو پايله دا شوه چې داسې يو شيطاني څرخ يې رامنځته کړ چې له امله يې د دولت او خلکو ترمنځ واټن په دوامداره ډول زيات شو او خلک يې د افغانستان نوې رامنځته شوې ډيموکراسۍ او د نوي دولت د وسله والو مخالفينو رحم او کرم ته پرېښودل.

د نيکمرغۍ په لور د هرې ټولنې د حرکت لپاره د ولس باور اړين دی. همدارنګه د بدلون، ثبات او اقتصادي پراختيا په برخه کې حياتي رول لري. له بله اړخه نه شتون يې هېواد په حساس حال کې پرېږدي او لاس وهونکو ته موقع ورکوي چې وضعيت د خپلو اجنډاوو لپاره وکاروي. افغانستان يوه غوره فرصت په لاس کې درلود، تر څو له جګړې وروسته ثبات، د جګړې بدلون، اقتصادي پرمختيا، سياسي بلوغ او اداري پراختيا په برخه کې بريا ترلاسه کړي، خو دولت و نه توانېد چې د خلکو باور وساتي کوم چې د بُن کنفرانس پر اساس جوړ شوی دولت ورڅخه برخمن و او پايله يې دا شوه چې دولت د سقوط له خطر سره مخ شو او يا لږ تر لږه ريښتوني ډيموکراسي له لاسه ورکړي.

---

[44] International Crisis Group. 2011. The Insurgancy in Afghanistan's Heartland. Asia Situation Report Series, Kabul/Brussels: International Crisis Group.